# ژبه څه ډول پدیده ده...؟ یوه تحقیقي مطالعه

## What kind of phenomenon is language…? A research based study

**RahmanUlla Qane**[1]

**ABSTRACT:**

Language is a set of optional phonemes that come out of the mouth through the vocal organs, and then reach the ears in the form of words and phrases. Language can be considered as the most important means of transmitting human thoughts and feelings. Language not only came into existence with the birth of humans, but it has also done all the stages of evolution side by side with social life. This phenomenon is directly related to humans or human society. This is also the reason that the value of language in social life has always been looked at from the point of view of value. Especially when the language of a nation disappears, it is certain that nation will also disappear. Language not only cannot keep itself alive without the existence of society, but also cannot make any progress and development. That is, a language that is separated from the human community or linguistic group will lose its life in a short time. A language has both natural and social features at the same time. What kind of phenomenon is language? In this research paper, the subject has been discussed in detail that language is basically a natural phenomenon or a social one? And if they have both characteristics at the same time.

**Keywords:** Phenomenon, Phonemes, Vocal Organs, Social Features, human thoughts.

ژبه د الله تعالی له خوا انسانانو ته یو ځانګړی امتیاز دی، چې پر دغه امتیاز باندې سم پوهېدو، سمې کارونې او د کمال سرحد ته د رسېدو لپاره ځینې پړاوونه وهل لازمي دي او دغه پړاوونه د ژبې د جوړښت پېژندل او په درست شکل سره کارول دي؛ ځکه چې انسان ژبه د ګڼو موخو لپاره کاروي او په همدې د خوشحالۍ سندرې او د غم ساندې وایي، نو د پرمختګ لپاره یې باید ویونکي لاس په کار شي او ژوندۍ یې وساتي. اروابناد مومند بابا لیکي:

"د ملت سعادت، سلامت، عافیت، راحت، عزت، ملي شته والی، هر ډول لوړوالی، د وطن ساتنه، په عزت او هوساینې سره ژوندون، په عزت سره مړینه او

---

[1]. Ph.D. scholar, Pashto academy, university of Peshawar.

له نړۍ څخه په ښه نامه سره تګ او نور، ټول ملي یووالي پورې، ملیته پورې او هغه هم ملي ژبې پورې اړه لري. که ژبه خلل مینده کړي، دغه ټول خلل مینده کوي او که محوه شوه ټول محوه کېږي او د هغه ملت نوم او نخښه د نړۍ له مخ څخه ورکېږي. ژبه هر څومره چې بشپړه وي، نو دغه خصوصیات هم هماغومره بشپړ او تر امنیت لاندې وي. لنډه یې دغه ده چې ژبه د ملي موجودیت، هوساتوب او سعادت، د لوړوالي او جګوالي سته ده. نو ژبه باید وساتله شي، وپالله شي، وروزله شي، هار ته کړله شي، علمي شي، ادبي شي، په هر حیث سره د ملت درستو اړینو او احتیاجاتو ته کافي شي"(۱).

د ژبې په وسیله انسانان خپل خوبونه رښتیني کوي، ځکه له ژبې پرته سوچ هم نشي کیدای، د ژبې په وسیله یو بل ته علم انتقالولای شو، ژبه د روحي سکون سبب ګرځي، ځکه تر هغې چې د خپل زړه خبره ښکاره نه کړو، خپلو خیالونو ته عملي بڼه ورنکړو، نو بې سکونه به یو، کله چې دا چاره عمل کې پیاده شي، نو د زړه بړاس مو کم او د خوښۍ احساس راپیدا شي. د تصوف ډېرې مرحلې هم د ذکر په وجه تر سره کېږي، زموږ د ژوند ښه والے او بدوالے هم ژبې پورې تړلے دے، لکه چې پښتو متل دے: (ژبه هم کلا ده هم بلا ده). اکسفورډ ډکشنري د ژبې پېژندنه داسې کړې ده.

(بریتانیکا انسایکلوپیډیا) چې یوه غوره او معتبره سرچینه ګڼل کېږي او د نړۍ ډېر لیکوال ترې په خپلو اثارو کې د باوري علمي ماخذ په توګه ګټه اخلي، ژبه یې داسې راپېژندلې:

"Language a system of conventional spoken, manual or written symbols by means of which human beings, as members of a social group and participants in its culture, express themselves. The functions of language include communication, the expression of identity, play, imaginative expression and emotional release" (۲).

ژباړه: ژبه په خوله د اداکېدونکو روایتي یا تحریري نښو یو نظام دے، چې په ذریعه یې انسانان د یوې ټولنیزې ډلې یا د یو کلتور د نماینده په توګه، د خپلو خیالاتو اظهار کوي. د ژبې په دندو کې اړیکې، د پېژندنې اظهار، لوبې، د تخییل او جذباتو اظهار شامل دي.

دا چې په پورتنیو پېژندنو کې ژبه د وسیلې په توګه یاده شوې، خو له ځینو سره بیا دا پوښتنه پیدا کېږي، چې ژبه وسیله ده او که هدف؟ په دې اړه یو لیکوال لیکي: ژبه ښایي د یو چا لپاره وسیله وي، خو د بل چا لپاره به هدف وي، په دې معنا که یو لیکوال، ادیب، شاعر، کره کتونکے، فیلسیوف، استاد، ډاکتر، انجنیر، تاریخپوه، امام... د خپلې لیکنې، شعر، نقد، فلسفي نظر، د نورو روزل، درملنه کول، د نقشو طرحې او تفصیل، تاریخ سپړل، دیني تبلیغ او نورو د وضاحت لپاره هره ژبه کاروي، نو دلته له ژبې څخه د وسیلې په توګه کار اخیستل کېږي، خو که څوک ژبه څېړي، د ژبې پر جوړښت خبرې کوي او ګرامر یې تشریح کوي، نو دلته ژبه وسیله نهٔ، بلکې موخه ده.

یعني ژبه معمولاً د دوو اړخونو له مخې د سپړنې او ارزښت وړ ده، یو پر ژبه باندې په هر اړخیزه توګه د پوهاوي لپاره، چې دا د ژبپوهانو او ګرامر لیکونکو کار، دنده او موخه ده او بل هم د دې لپاره چې یوه دویمه یا بله ژبه زده کړو او د وسیلې په توګه ورڅخه ګټه واخلو. اکاډمیسن سید محي الدین هاشمي هم ژبه د احساساتو او اندیښنو څرګندونکي ګڼي:

"ژبه د غږیزو سمبولونو داسې یو اکتسابي او قرار دادي سیستم دے چې د یوې ټولنې وګړي یې په خپل منځ کې د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي او د دغه سیستم په وسیله خپل احساسات او اندیښنې څرګندوي"(۳).

د دغې لیکنې په یوه بله برخه کې راغلي: د وګړو تر منځ د مفاهمې او ارتباط هره وسیله ژبه بلل کېږي؛ دغه ارتباط که د اشارو، ننښو، علامو او یا نورو وسیلو په واسطه تر سره شي ژبه بلل کېږي.

نوموړي څېړونکي د ژبې پېژندنه د صوتي غږو، زده کړې، غږیزو سمبولونو، سیستم، افهام او تفهیم پورې ځانګړې کړې ده.

ډاکتر دولت محمد لودین په خپل اثر (د عمومي ژبپوهنې مسایل) کې د ژبې په اړه وایي:

"ژبه د ټولنیز چاپیریال ننبیز سیستم دے، چې د خپلې ټولنې د غړو تر منځه د ګډون پیدا کېدو یوه ډېره مهمه او اساسي وسیله ده. همدارنګه ژبه د فکر د پراختیا موندلو، له نسل بل نسل ته د کلتوري، تاریخي او نورو عنعنو یوه انتقالونکې وسیله ده"(۴).

په نړۍ کې هره ژبه له خپل فرهنګ، احساساتو او د ټولنيز ژوند له عنعناتو څخه ډکه وي، ځکه نو د نړۍ بېلابېل قومونه په خپل هويت او فرهنګ ځرګندونکي دي.

ښاغلي عبدالرزاق پالوال ليکي: ژبه د پوهنې او پوهېدنې هغه صوتي سيمبوليکه وسيله ده چې ودې او تکامل يې بشر د انسانيت او تکامل پړاو ته رسولی او د ليک ايجاد يې انسان د مدنيت او تکاملي پړاو ته رسولی دی.

يعنې ژبه يوه فطري ټولنيزه، زده کړه ايزه، مدني، مترقي، منظمه يا سيستماتيکه قراردادي پديده ده چې له يو شمېر غږونو څخه منځته راغلې او انسانان يې د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي. فطري او ټولنيزه په دې معنا چې دواړه ځانګړنې لري، چې لاندې پرې بحث شوی.

يا ژبه هغه انساني پديده ده چې بيولوژيکي، تاريخي، جوړښتي، علمي، عملي، ټولنيز او پوهنيز ارزښت لري، نو ځکه ژبه څېړل کېږي، سپړل کېږي او تجزيه کېږي.

ژبه: ژبه په عام ډول سره دپوهولو او راپوهولو وسيله ګڼل شوې، خو په ځانګړي ډول ژبه د غږيزو، اوريزو، سمبولونو يو داسې کسبي سيستم ګڼل شوی، چې د يوې ټولنې وګړي يې يو له بل سره د پوهولو او راپوهولو لپاره پر ژبه راوړي او يو بل ته يې اوروي.

يا په بله وينا: ژبه په ځانګړي ډول هغه اوازونه دي، چې انسانان يې د خپلو افکارو او خيالاتو د څرګندولو په غرض تر يو ځانګړي نظم او سيستم لاندې د غږيزو غړو په وسيله له خولې څخه راوباسي او په دې توګه يو له بل سره اړيکه ټينګوي، يعنې يو بل پوهوي.

پوهاند صديق الله رښتين د پښتو ګرامر کتاب په يوه برخه کې د ژبې د تعريف تر څنګ ژبه په دوه ډوله ويشلې: هغه بېلابېل اوازونه چې موږ يې له خولې څخه وباسو که د کمال پړاو ته ورسېږي او په منظمه توګه له يو بل سره ګډ او د الفاظو او کلماتو په بڼه د افکارو د څرګندولو او د يو بل پوهولو را پوهولو لپاره استعمال شي ژبه نومېږي. نوموړي عالم ژبه د خبرو کولو ژبه او ليکلې ژبه باندې ويشلې"(۵).

همدې لیکوال په خپل بل کتاب (ژب ښودنه) کې هم ژبه پر دوه ډوله وېشلې، چې یو د لیک ژبه او بل د وینا ژبه، چې په تشریح کې یې لیکي: انسانانو لومړے د پوهولو او راپوهولو لپاره د خبرو کولو ژبه رامینځته کړې او بیا یې له دې امله چې اوازونه ورکېدونکي او له منځه تلونکي دي او برسېره پر دې په غیاب کې هم له هغو څخه کار نه اخیستل کېږي. د پېړیو په تېرېدو سره یې د اوزاونو په مقابل کې علامې او نښې اختراع کړې، چې توري (حروف) او الفباء ورته وایي او په نتیجه کې د تورو له ترکیب او ګډون څخه خط او لیک منځته راغے او په دې ترتیب اوازونه د افکارو د نماینده او حروفو او اشکالو د اوازونو د نماینده بڼه نیولې ده.

نو د ژبې پېژندنه داسې کولے شو: ژبه له اختیاري وییزو غږونو، نښو او سیمبولونو څخه یو جوړ شوے سیستم دے، چې د وګړو تر منځ د پوهاوې مهمه وسیله ده.

یا ژبه د اختیاري اوازونو مجموعه چې د صوتي غړو په وسیله تولید او په غوږونو اورېدل کېږي، د لفظونو او کلمو په بڼه د افکارو د څرګندولو په موخه د پوهولو لپاره استعمالېږي.

ژبه ځکه اختیاري ده چې تقلید او پېښې نه وي، یعنې د مرغانو خبرې کول ژبه نه ده او وییز غږونه هغه دي چې د ادا کولو پر وخت صوتي مزي په حرکت کې وي، یعنې هغه مفاهمه چې صوتي غړي په حرکت کې نه وي ژبه نه ده. اډوارډ سپیر (Award Sapir) او لیونارډ بلوم فیلډ (Leonard) bloom Field دوه عالمان د وییزو غږونو په باره کې داسې نظریه لري: وییز غږونه څرنګه چې ویل کېږي باید په هماغه ډول سره ولیکل شي، یعنې هر وییز غږ په یو ګرافیم سره ښودل کېږي.

ژبه ځکه سیمبول ګڼلے شو چې د اوازونو هغه مجموعه ده چې د یو څه شي د پېژندنې لپاره ځانګړے شوے وي او د نوې ژبپوهنې له مخې ژبه د افکارو د تبادلې د نورو سیستمونو په څېر د معنا د لېږد لپاره له سیمبولونو څخه کار اخلي. یعنې سیمبول یا رمز څخه موخه دا ده چې پر یو څه شي دلالت وکړي. سیمبول او نښه په تړولنه کې د څیزونو د څرګندولو دندې لري، همدارنګه وییونه او کلمې هم ځانګړې نښې او سیمبولونه دي، چې یوه ټاکلې پدیده، پېښه، نظر او احساس انځوروي.

ژبه ځکه یو سیستم ګڼلی شو، چې هره ژبه ځانګړې جوړښتي نظام لري او په دې کې ګرامري اصول په پام کې نیول کېږي. یعنې دا نظام د ژبې د جوړښت په هره مرحله کې موجود دی. همدا ژبه ده چې د تاریخ په اوږدو کې ټولنو پرې خپل تاریخي دریځ او فکر نورو ته لیږدولی دی. وروسته بیا د ژبو پوهانو د ژبې په هکله څېړنې کړي او اصول یې ورته وضع کړي. دا ټول اصول د همدغې ژبې د وجود له برکته دي. که ژبه نه وای؛ نو اصول به د څه لپاره جوړېدل.

ژبه له غږونو، مورفیمونو او جملو څخه تشکیل شوي، چې هره برخه بیا د څېړنې ځانګړي اصول لري. همداراز ژبه د انساني غږونو یو رمزي سیستم دی، چې د یوې ژبنۍ ټولنې غړي یې د مفاهمې لپاره کاروي. چې د ژبې دغه غږیز سیستم ته وینا ویل کېږي، چې اساسي عناصر یې غږونه دي او انسانانو د دغه غږیز سیستم د ثبتولو او ساتلو لپاره ګرافیک سیتمونه اختراع کړي دي، چې لیک یې بولي او د دې لیک اساسي جوړونکي عناصر توري دي. غږونه داسې فزیکي پدیدې دي چې احساس یې د غږونو په واسطه کېږي او توري بیا داسې فزیکي پدیدې دي چې احساس یې د سترګو په واسطه کېږي.

د ژبې په پېژندنه کې ژبه ځکه مهمه وسیله ګڼل شوي، چې د افهام او تفهیم وسیلې که څه هم زیاتې دي، خو هغه وسیله چې مفاهمه پکې په ښه، دقیق، اسانه او هر اړخیز شکل سره صورت نیسي هغه ژبه ده، یعنې د پوهولو او راپوهولو ډېرې داسې وسیلې موجودې دي، چې ژبه ورته ویلای نشو، لکه: ترافیکي اشارې، دبدن د غړو ډول ډول حرکات او نور...

یعنې په ژبه کې د اختیار، سیستم، مفاهمې او مهمه وسیله ټکي د پام وړ دي.

څېړنیار رفیع الله نیازي په خپله څېړنه (په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر) کې د پوهاند حبیب الله تږي د ژبې هغه پېژندنه چې (۱۳۳۶) هـ ل کال په کابل مجلې کې د ژبې پیدایښت تر سرلیک لاندې ژبه په لغوي او اصطلاحي لحاظ تعریفوي داسې راخیستې:

"ژبه په لغت کې د غوښې ټوټه ده، چې دننه په خوله کې پرته ده، د خوراک، څښاک د مزې کتو له کبله د ذایقې خاصه بلل شوې ده. اما په اصطلاح کې د پښتو (ژبه) د یوناني لوګوس «Logos» دانګلسي لېنګویج «Language» او د عربي «لغت» هغه سم شوي اوازونه دي چې د غږیز جهاز د بېلو بېلو مخارجونه په

ځانته ځانته بڼو را ابستل کېږي او د انسانانو تر منځ د یو بل د پوهولو او راپوهولو یا مطالبو، افکارو، خیالاتو او احساساتو د ښکاره کولو لپاره استعمالېږي، مګر څرنګه چې په خبرو او ګړېدا کې د ژبې برخه ډېره ده؛ نو له دې کبله دغه اله، چې موږ د افکارو، خیالاتو، مطالبو او احساساتو د ښکاره کولو یا د یو بل د پوهولو او را پوهولو وسیله وبلله د (ژبې) په نامه یاده شوه"(۲).

د پوهانو او څېړونکو د پورتنیو پېژندنو مطلب دا دے چې وګړي که یوه ژبه په شفاهي ډول کاروي، یا یې د ښېو په بڼه په خپلو منځو کې استعمالوي او یا دا چې د یوې تحریري وسیلې په شکل له هغې څخه کار اخلي، داسې یوه پدیده ده چې د انسانانو په منځ کې رابطې قایموي، انسانان د ژبې په واسطه سره ټولېږي او جرګه کېږي، په خپلو ستونزو غږېږي او د حل لارې چارې یې هم د ژبې په واسطه یو او بل ته وربښيي، د یوله بل تجربو څخه هم د ژبې له لیارې خبرېږي او ګټه ورځخه اخلي.

په اریانا دایرة المعارف کې یې ژبه د څو اړخونو له مخې راپېژندل شوي، هم یې د ژبې بیولوژیکي دنده راښوولې، هم یې د مفاهیمې د وسیلې په توګه راپېژندلې او تر څنګ یې د ژبې پر جوړښت هم خبرې کړي، دا چې زموږ بحث د ژبې پېژندنه ده، نو ځای دے چې دغه د ژبې نورو اړخونو په اړه هم یوه شو:

ژبه (Tongue) د مخططو عضلو یوه کتله ده چې په خولهٔ کې موقعیت لري، د خوند او خبرو کولو اساسي غړے دے، د غذایي موادو په ژولو او تېرولو کې اهم رول لري.

ژبه څلور اساسي خوندونه د څلورو بېلابېلو برخو په واسطه احساسوي:

۱ – تریخ خوند: د ژبې د شاتنۍ برخې په واسطه احساسېږي.

۲ – تریووالے: شا ته نږدې د ژبې د دواړو خواوو په واسطه احساسېږي.

۳ – مالګین: قدام ته نږدې د ژبې د دواړو خواوو په واسطه احساسېږي.

۴ – خوږوالے: د ژبې د څوکې په واسطه احساسېږي.

ژبه (Language): د تاریخ د شهادت پر بنسټ بشر په خپلو ټولنو کې د اړیکو د ټینګولو لپاره تل له بېلابېلو وسایلو او ابزارو څخه کار اخیستے، چې په دې منځ کې (ژبه) د دوی له مهمو وسایلو او ابزارو څخه ګڼل کېږي.

ژبه یو ټولنیز اصل دے، چې د یوې ټولنې وګړې د یو بل له نیتونو او موخو څخه د خبرېدو او یو له بل سره د اړیکو د ټینګولو په منظور د هغې عناصر سره برابر کړې دي. که څه هم چې دا اصل په ټولو بشري ټولنو کې شته، دنده او رول یې په ټولو ځایونو کې یو شان دے، بنه یې خامخا په ټولو ټولنو کې یو شان نه ده او د عمل لاره چاره یې په هره ټولنه کې له بلې ټولنې سره څرګند توپیر لري"(۷).

په دغه پېژندنه کې ژبه یوه ټولنیزه، اکتسابي او بدلېدونکې پدیده یاده شوې ده چې له یوې ټولنې تر بلې توپیر لري، ژبه د پوهولو او راپوهولو وسیله ده چې انسانان، حیوانات او ټول هغه موجودات چې ژبه لري د یو او بل د پوهولو او راپوهولو لپاره په بېلابېلو ډولونو له هغې ګټه اخلي. خو باید ووایو چې یوازې انساني ژبه عام فهمه، اسانه، هر اړخیزه او له نورو پوره ګڼل کېدای شي، ځکه حیوانات که خپلو د خاصو غږونو په واسطه یو بل پوهول شي، مګر دا پوهاوے یې پوره معنا لرونکے نه دے.

همدا شان یو له بل سره مرسته د ټولنیز ژوند ځانګړنه ده او ټولنیز ژوند د افهام او تفهیم لپاره ژبې ته اړتیا لري، یعنې ژبه هغه وسیله ده چې د هغې په واسطه کولے شو یو د بل په موخه پوه شو. پورته د ژبې د پدیدې یادونه وشوه؛ نو ځای دے چې دې موضوع ته راشو او وګورو چې ژبه په واقعیت کې کوم ډول پدیده ده؟ ژبه څه ډول پدیده (phenomenon) ده؟

څرنګه چې ژبه یوه پدیده ګڼل کېږي، خو دا چې پدیده څه شے دے؟ او ژبه څه ډول پدیده ده؟ دلته به پرې بحث وکړو: پدیده فارسي کلمه ده چې انګلیسي کې ورته (phenomenon) وایي او قاموسونو یې معنا واقعه، پېښه، حادثه، ښکاره، مشاهده، نوے څیز، هغه څه چې د حواسو په واسطه احساس شي او مشاهده شي پدیده ده.

په ټوله کې د ژبې د پدیدې په اړه دوې نظریې موجودې دي:

۱ – فطري او طبیعي نظریه: د دې نظریې سرلارے افلاطون دے.

۲ – ټولنیزه او کسبي نظریه: د دې نظریې بنسټګر ارستو دے.

دلته به لومړے د دغو دوو نظریو په اړه د نورو لیکوالو نظرونه راوړو، همداراز د اسلام مقدس دین په رڼا کې به هم ژبه مطالعه کړو او وروسته به خپل برداشت درسره شریک کړو.

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار چې ډېرې ګټورې ژبنۍ او ژبپوهنیزې څېړنې او لیکنې کړې، دا هم د ژبې د ټولنیزې پدیدې پلوي دے او په دې اړه لیکي:

"ژبه یوه تړوني، ټولنیزه کسبي وسیله او ټولنیزه پدیده ده؛ په ټولنه کې زده کېږي، په ټولنه کې پر کار لوېږي او یوازې انسانانو پورې اړه لري"(۸).

یعنې ژبه د ټولنې د وګړو لپاره هغه وسیله ده چې دوی وربانديې خپل تاریخ ساتلے شي، د ټولنې مادي، معنوي، فرهنګي او نورې لاسته راوړنې پرې خوندي کوي.

پوهاند محمد صابر خویشکے ژبه ټولنیزه، اکتسابي او ثقافتي پدیده ګڼي او د دې خبرې د اثبات لپاره داسې بېلګه هم راوړي: د ماشوم په لاره تګ یو طبیعي واقعیت دے، که چېرې یو انسان له ټولنې څخه لیرې کړو په لاره تګ زده کوي، خو د خبرو کولو زده کړه له ټولنې څخه بهر امکان نه لري.

پوهنوال میراجان غوربندے په خپل کتاب (د ژبپوهنې مبادي) کې لیکي: ژبه هغه انساني ځانګړنه ده، چې د انسان له پیدا ایښت سره سمه منځ ته راغلې او د انساني کلتور تر ټولو لوی او خورا ستر ارزښت ګڼل کېږي.

"ژبه یوه اجتماعي زړه پدیده او د بشري ژوند د اوږد تاریخ او ټولنیز ژوند محصول ده"(۹).

د پورته نظر یو بل لیکوال هم پخلے کوي او په دې اړه وایي: له زړو فلسفو د ژبې په اړه دا نظرونه راپاتې دي چې ژبه طبیعي ښکارنده ده که ټولنیزه؟ اوس پرې دا نظر بر لاسے شوے چې ژبه ټولنیزه ښکارنده ده، نه طبیعي او فطري؛ طبیعي ښکارندې هغه دي چې د منځته راتګ سرچینه یا ځواک یې وګړي او ټولنه نه وي او ټولنیزې هغه دي چې د منځته راتګ سرچینه یې ټولنه او وګړي وي. انسان او د ده په بدن کې د غړونو د زېږون سیستم الهي او طبیعي دے، دا د هر انسان په بدن کې شته، په دې کې ټولنه کار نه لري، خو ژبه هغه سیستم دے چې د انسان له وجوده بهر مطرح دے او بهر مطالعه کېږي، یوازې د غږ د تولید برخه چې بدن پکې ونډه لري، په بدن کې مطالعه کېږي او دا برخه په ټولو وګړو

کې یو ډول، الهي او طبیعي ده، یوازې په ځینو اوازونو کې توپیر لري، خو د غږ د تولید ټولیزه لړۍ یوه ده"(۱۰).

پورته په دې اساس ژبه فطري نه ده ګڼل شوي چې په ټولنه کې زده کېږي او تر څنګ یې دا دلیل هم راوړے چې ژبه په لیبارټرۍ کې نه زده کېږي او نه د خاصو خلکو د زیار نتیجه ده، خو دې ته یې پام نه دے چې دا یوه انساني ځانګړنه او په انسانانو د الله تعالی لورېینه ده؛ نو دا په اصل کې یوه فطري پدیده ده چې په ټولنه کې تبارز کوي او بغیر له ټولنې دغه فطري پدیده نه څرګندېږي. انسان په پیدایشي توګه د ژبې ځانګړے صلاحیت لري او دا صلاحیت د یوې مخصوصې ژبې پورې هم نه دے تړلے، که چېرې یو ماشوم د خبرو کولو طاقت نه لري، نو هغه د اشارو ژبه زده کوي. او د ژبې له نظام څخه موخه هغه پدیده ده چې ژبه له داسې جوړوونکو توکو څخه جوړه ده چې هر توک یې یو پر بل باندې متقابلې اغېزې لري.

پورته مو د ژبې په اړه د بېلابېلو پوهانو نظرونو ته اشاره وکړه. دا چې اسلام یو بشپړ، پراخه او جامع دین دے، چې د هرې مسئلې حل پکې په اسانۍ سره موندلے شو، نو لازمه ده چې د ژبې د پېژندنې په هکله اسلامي نظریات هم راواخلو.

الله (ج) فرمايي: ((وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا)) «سورت بقره، ۳۱ایات»"(۱۱).

ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی ادم (ع) ته د ټولو شیانو نومونه وروښوول.

تفسیر: کله چې ادم (ع) ته الله تعالی د ټولو ژبو ښوونه وکړه او بیا ادم (ع) خپلې اولادې ته د ژبو زده کړه ورکړه، مګر کله چې هغوی په ځمکه کې خواره او تیت شول، نو هر یو قام له هغوی څخه په هاغه ژبه غږېده، چې ورته اسانه او مینه یې ورسره وه او نورې ژبې یې هېرې کړې.

همداراز د قرانکریم په سورت رحمن کې راغلي دي: ((خَلَقَ الْإِنْسَانَ (۳) عَلَّمَهُ الْبَيَانَ)) « اوه ویشتمه سپاره، سورت رحمن، ۳او۴ ایاتونه »"(۱۲).

ژباړه: الله پاک انسان پیدا کړ او هغه ته یې بیان یعنې د خبرو کولو چل ور وښود.

د قران کریم د دېرشمې سپارې د البلد په سورت کې الله پاک د هغو نعمتونو یادونه کوي، چې انسانانو ته یې ورکړي دي: (( أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ (۸) وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ )) «دېرشمه سپاره، البلدسورت ۸ او ۹ ایاتونه».

ژباړه: ایا نه دي ورکړي موږ ده (انسان) ته دوه سترګې او ایا نه دي ورکړې موږ ده ته ژبه او دوه شونډې، چې خبرې پرې کوي او نورې اړتیاوې پرې پوره کوي .

مفسرین وایي: چې په پورتني ایات کې له لسان کلمې څخه موخه یوازې هغه ژبه چې د غوښې یوه ټوټه ده، مراد نه ده، بلکې د لسان کلمه، هم د غوښې دغې ټوټې او هم هغې ژبې ته چې انسان یې د اړتیاوو لپاره کاروي ویل کېږي.

کله چې ادم علیه السلام خپل قوم ته د هدایت لپاره لېږل کېده، نو د قوم د لارښوونې لپاره پرې صحیفې نازلې شوې.

د قرانکریم په ابراهیم سورت کې د مورنۍ ژبې د اهمیت په هکله الله تعالی فرمایي:

(( وَمَا اَرسَلنَا مِن رّسُولِ الاّ بِلِسَانِ قَومِه لِیُبَیّنَ لَهُم فَیَضِلّ اللهُ مَن یَشَاء وَ یَهدِي مَن یَشَاَء وَهُوالعَزِیزُالّحَکِیم)) (سورة ابراهیم، ایت ۴)

ژباړه: موږ نه دے لېږلے یو رسول، مګر لېږلے مو دے په ژبه د قوم د هغه، د دې لپاره چې دوی ته د الله تعالی دین بیان کړي. پس الله تعالی ګمراه کوي هغه څوک چې خوښه یې شي او هدایت ورکوي هغه چاته چې خوښه یې شي او الله تعالی د حکمت خاوند دے.

مفسرین لیکي، چې الله تعالی خپل پیغمبرانو ته ګڼې ژبې ورښودلې وې.

د قرانکریم له پورتنیو ایاتونو څخه دا خبره روښانېږي، ادم علیه السلام چې لومړے انسان دے، الله پاک ژبه ورکړې وه او هم یې قوم ژبه درلوده، چې د هماغه قوم په ژبه پر ادم علیه السلام صحیفې نازلې شوې او د الله پاک دین ته یې خپل قوم ورباله.

د قرانکریم د ارشاداتو پر بنسټ ویلے شو، چې ټولې ژبې الله پاک پیدا کړي او جوړې کړې دي، انسانان یې په پیدا ایښت او جوړونه کې هېڅ راز ونډه نه لري او له دې سره په څنګ کې د ټولو بشري ژبو زده کړه الله پاک د لومړي ځل لپاره ادم علیه السلام ته ورکړې وه.

په نړۍ کې د بېلابېلو ژبو د شتون په اړه قرانکریم فرمایي: وَمِنْ آیَاتِه خَلْقُ السَمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِکُمْ وَاَلْوَانِکُمْ اِنّ فِيْ ذٰلِکَ لَآیَاتٍ لِلْعَالِمِیْنَ ط (۲۱ سپاره، سورت الروم، ۲۲ ایات).

ژباړه: د الله تعالی د قدرت له ځینو نښو څخه د اسمانونو او ځمکې پیدا کول دي او اختلاف د ژبو ستاسې دے او بل اختلاف د بڼې او رنګونو ستاسې دے، بېشکه په دغه اختلاف کې د پوهانو لپاره خامخا د الله تعالی د قدرت ډېرې نښې دي.

دغو ټکو ته په پام سره دا نظریه رد ېږي، چې ژبې په ټولنو کې را پیدا شوې او ټولنیزه پدیده ده، بلکې د ټولنو لپاره پیدا شوې، د ټولنو وګړي پرې یو له بل سره اړیکې نیسي، دټولنو له پرمختګونو سره سم د انساني اړتیاوو په پام کې نیولو سره یکې یوازې د اړتیا پر بنسټ بدلونونه راځي او دا لړۍ د انساني ژوند له بهیر سره سمه روانه وي"(۱۳).

ښاغلے رفیع الله نیازے د دوکتورا په (د پښتو ژبپوهنې تاریخي او تنقیدي جائزه) کې د ژبې په هکله مفصل غږېدلے، چې دلته به یې لومړے د پورتنۍ خبرې د اثبات په اړه نظر راواخلو: د مفسرینو له څرګندونو څخه معلومېږي، چې ژبې ټولنیزې پدیدې نه، بلکې الله تعالی پیدا کړي او بیا یې لومړني انسان حضرت ادم ع ته هغه مهال ښودلي، چې انساني ټولنه نه وه، یعنې ادم ع یوازې و، بیا وروسته د هغه اولاده پیدا شو او د انساني ټولنې بنسټ یې کېښود.

دوکتور نیازے د لسان کلمې په اړه وایي: د لسان کلمه په قران کریم کې ټولټال په (۲۳) سورتونو کې، (۲۵) ځله د مفرد او جمعې په بڼه، (۱۷) ځله په مکي سورتونو او (۸) ځله په مدني سورتونو کې راغلې ده. په قران کریم د ژبې، یعنې د لسان د کلمې ذکر (۲۴) ځله د اړیکو ټینګولو او یو ځل ترې د انسان د بدن د یوه فزیکي غړي په توګه شوے او د حضرت محمد (ص) په بېلابېلو حدیثونو کې هم کله د لسان او کله د السنة په توګه د انساني ژبې ذکر شوے دے"(۱۴).

الله تعالی د قرانکریم په شپاړسمې سپارې، سورت مریم، پنځوسم ایت کې فرمایي:

وَوَهَبۡنَا لَهُمۡ مِّن رَّحۡمَتِنَا وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِیًّا.

(شپاړسمه سپاره، سورت مریم ۵۰ ایت)

ژباړه: او ورکړے مو دے ده ته له خپل رحمت څخه لوړ او رسا اواز او ژبه.

په علمي او اکاډمیک بحثونو کې زیات وخت هڅه کېږي، چې له مذهبي او عقیدوي اړخ څخه بغیر یوه موضوع وسپړي او ورک اړخ یې را پیدا کړي، خو دلته د مذهبي روایاتو له مخې هم د ژبې په اړه وغږېدو.

د ژبې په هکله له پورتنیو پېژندنو څخه موږ لاندې پایلې ته رسېږو:

ژبه چې په اصل کې څلور بېلابېل اوازونه (Žəba) دي او په مروج لیکدود کې د درې ګرافیمونو (ژ،ب، ه) په شکل لیکل کېږي، چې سره یو ځای شي د ژبې معنا لرونکې کلمه ترې جوړېږي.

څنګه چې د ژبې د کلمې غږونه او ګرافیم سره توپیر لري؛ همدومره د ژبې د پېژندنې په اړه د ژبپوهانو د نظریاتو اختلاف هم لیدل کېږي. همدارنګه لکه څنګه چې د ژبې تورو (ژ، ب، ه) څخه مختلف کلمې (ه ژ ب، ه بژ، بژه، به ژ، ژه ب،ژبه) جوړېدای شي، چې په دې شپږ کلمو کې یې دوه (ژبه او بژه) معنا لرونکي او نور یې بې معنادي، همداسې د ژبې په تړاو له همداسې نظریاتو سره هم مخامخېږو.

داسې ویلے شو: ژبه د الله (ج) له خوا انسانانو ته ورکړل شوي او په ټولنه کې تغییر او بشپړوالے پیدا کوي. یا دا چې ژبه یوه فطري پدیده ده، خو د دغې فطري پدیدې د څرګندولو او ودې کولو لپاره ټولنې ته اړتیا ده، که ټولنه نه وي، نو دغه فطري پدیده څرګندېدای نه شي.

یعنې ژبه یوه فطري او طبعي ځانګړنه ده چې الله ج انسانانو ته ورکړې ده، خو له انساني ټولنې پرته نشي زده کېدای.

دا سمه ده چې د ټولنې د پرمختګ په پایله کې ژبه هم پرمختګ کوي او د ټولنې د منځه تلو په پایله کې ژبه هم ختمېږي، ځکه چې ژبه په ټولنه کې رابرسیره کېږي او د ټولنیز ژوند لپاره انسانان له ژبې ګټه اخلي. لکه څنګه چې د ژبې بنسټ غږ او اواز دے، چې دا بیا د انساني غړیزو غږو تولید دے او په دې کې خو هېڅ اختلاف نشته، چې انسان او د ده په بدن کې د غړونو د زېږون سیستم الهي او طبیعي دے، چې د هر انسان په بدن کې شته، نور که ژبه د انسان له وجوده بهر مطالعه کېږي او که داخل کې، خو دا هم منل کېږي چې همدغه غړیز غږو د حرکت په نتیجه کې غږونه ادا کېږي او د شو غږونو د یو ځای کېدو په صورت کې معنوي

واحدونه جوړېږي او د دې معنوي واحدونو له یو ځای کېدو څخه کلام رامنځته کېږي او د دې ټولو په پایله کې ژبه رامنځته کېږي.

دا باید ووایو چې ژبه د هغه طبیعي غړو او پېښو په څېر هم نه ده چې په هر ځای او هر وخت یو ډول وي، بلکې دا طبیعي پدیده له نورو سره دا توپیر لري، چې د ظهور او پرمختګ لپاره ورته ټولنیز ژوند معیار ګرځېدلے دے. او د ژبې ټولنیزتوب یې دومره زیات دے چې فطري توب او طبیعي والے یې تیت کړے دے؛ نو دا به ښه وي چې ژبه نه سوچه ټولنیزه پدیده وبولو او نه یوازې طبیعي، بلکې ژبه د دواړو (طبیعي او ټولنیز) یوه داسې ګډوله وبولو چې له امله یې ژبه رامنځته کېدای شي.

زه ځکه په دې خبره ټینګار کوم او تکرار یې راوړم چې ژبه طبیعي ځانګړنه ده او په ټولنه کې ظهور کوي، چې د مطالعې په جریان کې مې ډېر داسې لیکوال ولیدل چې ځینو په دې خاطر ژبه ټولنیزه پدیده ګڼلې چې د دې نظریاتو طرفداران ورته ډېر او یا مهم خلک ښکاره شوي او ځینو بیا د ژبې د طبیعي والي خبره ځکه کوي، چې د دې نظر پلویان ورته کامیاب ثرګند شوي.

د دغې نظریې پلویان دغه بېلګې د ثبوت په ډول راوړي:

د (ایزتن) په نوم یو امریکایي و، چې د خپل جنایت له امله د حکومت له خوا په جزا محکوم شو او یوې داسې جزیرې ته د بندي په توګه وشړل شو، چې هلته هېڅ انسان نه و، څو کاله وروسته چې پولیس هغه جزیرې ته ورغلل، نو ګوري چې له ایزتن څخه خبرې هېرې شوي دي، کله چې حکومت ایزتن بیا انساني ټولنې ته راوست، نو بېرته یې ورو ورو خبرې زده کړې.

په دې اړه بله بېلګه د (ریدسینګ) په نوم د یوه هندي ارواپوه تجربه ده. ریدسینګ په (۱۹۷۷ م) کال په غار کې دوې ورې انجونې پیدا کړې، چې د لېوه له بچیانو سره یې ګډ ژوند کاوه. دا انجونې یوه (امیلا) او بله (کمیلا) نومېده، امیلا ژر مړه شوه، خو کمیلا تر لس کلنۍ پورې ژوندۍ وه. ریدسینګ د کمیلا ورځنې فعالیتونه، تغییرات او پرمختګونه په ډېر غور او دقت سره څارل.

کمیلا به په لومړیو وختونو کې پر څلورو پښو تله، غوښه به یې لکه حیوان غوندې په خوله پورته کوله، اوبه به یې لکه د سپي غوندې څښلې. کله چې به څوک د خوراک په وخت کې ورنږدې شو، نو دا به د وحشي ځناور په شان غورېده.

کله کله به يې د شپې له خوا د ځناورو په شان چغې وهلې، کالي يې په تن کې نه پرېښودل او څېرل به يې. همداراز په لومړيو کې به له رڼا څخه ډارېده، د ورځې په پرتله به يې د شپې له خوا سترګو ښه ليدل.

څه موده وروسته کميلا پر پښو درېدل زده کړه، خو چې کله به يې منډه کوله، نو پر څلورو به تلله، د وخت په تېرېدو سره يې له زړه څخه د ځينو شيانو ډار ليرې شو. وروسته به يې ډوډۍ په لاس خوړله او اوبه به يې په ګيلاس کې څښلې. په دې ډول يې ورو ورو له انساني ټولنې سره مينه پيدا شوه او څو کلمې يې زده کړې.

کميلا په انساني ټولنه کې څلور کال تېر کړل، خو بيا يې هم ټول وحشي خويونه هېر نه شول.

د ژبې د ټولنيزې پديدې ګڼلو پلويان دا مثال هم راوړي: که ارثي قانون ته وګورو؛ نو له تور پوستي څخه تور پوستے او له سپين پوستي څخه يوازې سپين پوستے ماشوم پيدا کېږي، خو که همدا تور پوستے ماشوم د سپين پوستو سيمې ته يووړل شي، نو ښکاره ده چې دا ماشوم به هم د سپين پوستو ژبه زده کوي، مګر ظاهري بڼه او کړه وړه به يې خپلې کورنۍ او نژاد ته ورته وي؛ مګر دوی دا هېره کړي، چې ژبه يوازې ټولنيزه پديده نه ده، ځکه چې دا وړتيا او استعداد فطري او طبعي دے، کنې په ټولنه کې له انسانانو پرته نور حيوانات هم شته، چې سره له روزنې هم خبرې نشي کولے، خو يوازې انسان دغه ځانګړنه لري او مونږ مخکې هم وويل چې د دغه طبعي ځانګړنې د ظهور لپاره ټولنه شرط دے، نو ځکه ژبه طبعي او ټولنيزه پديده ګڼلے شو.

يا دا چې ځينو ليکوالو يوازې په دې خاطر د ژبې د ټولنيز پديدې ګڼلو طرفداري کړي چې دوی يوازې د ژبې همدا برخه مطالعه کړي چې ژبه په ټولنه کې وده کوي او کله چې ټولنه بدلېږي؛ ژبه هم بدلېږي، خو هېڅکله دې ته پام نه دے کړے چې د ژبې اساس څه شے دے او دا بدلون خو يوازې زموږ په ذهني بدلون او برداشت کې دے. بله دا چې د ژبې د ټولنيز پديدې ګڼلو طرفدارن د ژبې د پيدايښت په اړه وايي چې کله انسانانو ټولنيز ژوند شروع کړ او اړتياوې محسوسې کړې، نو ورو ورو يې ژبه رامنځته شوه، چې لومړے يې د ژوند چاپېريال، پېښو، ژويو، ونو نومونه، په نورو ټکو او وييونو رامنځته کړه او د

لومړنيو ګڼ وړ غږونو په وسيله يې خپل پيغام تر نورو رساوه او د وخت په تېرېدو سره ژبه منظم شکل ته واوښته، خو دوی د لومړنۍ ژبې د پيدا کولو په بحث کې دا منلي چې په انساني تاريخ کې بې ژبې انسان نه و، او د انسانانو د فوسيلونو په څېړنه کې دا څرګنده شوي، چې تر يو ميليون کاله يا تر هغه وړاندې زمانه کې انساني ژبه موجود وه او دا يې هم منلي چې د انسانانو پلار ادم عليه السلام هم خبرې کړي دي.

ځينو ليکوالو بيا وچ په وچه ژبه يوازې طبيعي پديده ګڼلې ده، چې دوی يوازې د ژبې فطري اړخ مطالعه کړے او د دې لپاره د ادم (ع) واقعې ته اشاره کوي، چې د ملايکو او ابليس پر وړاندې يې د الله (ج) په امر د ټولو شيانو نومونه واخيستنه او په ټولو ژبو وغږېده، چې نن هغه هر څه په نړۍ کې تکرارېږي، خو دا يې له پامه غورځولي چې دا فطري پديده له ټولنې پرته هېڅ ارزښت نه لري او نه ورته اړتيا ليدل کېږي او د ژبو پيدا کېدل او ورکېدل په ټولنيز ژوند کې منعکس کېږي.

د ژبې فطري استعداد په ټولنه کې راڅرګندېږي، چې زياتو پوهانو ورته کسبي پديده هم ويلي ده، ځکه که انسان له انساني ټولنې څخه جدا شي، نو ژبه نشي زده کولای او دغه فطري استعداد يې نه راښکاره کېږي.

د يوې ژبې شکل د هماغې ژبې د ويونکو د لوستو، نالوستو او ټولو محلي اوسېدونکو له خوا په ډاګه کېږي، نو په همدې وجهه ژبه له ټولنيزو ارزښتونو متاثره ده. د دغو نظرياتو په پام کې نيولو سره به ووايو چې د ژبې لپاره د فطريتوب او کسبيتوب دواړه اړخونه بايد په پام کې ونيسو او ژبه يو طبيعي پديده وبولو چې په ټولنه کې راښکاره کېږي.

په دغه ليکنه کې دا څرګنده شوې، چې د پوهولو او راپوهولو ټولې وسيلې ځکه ژبه نه ګڼل کېږي، چې د ژبې په تخصصي پېژندنه کې نه راځي او د ژبې ټول عناصر نه لري؛ بلکې هغه څه ژبه ګڼلے شو چې د اختياري ويېزو غږونو په واسطه، د يو خاص سيستم له مخې ادا او د وګړو تر منځ د افهام او تفهيم مهمه وسيله ګڼل کېږي. دا چې ژبه په غږ او غوږ پورې اړه لري؛ نو ليک او اشاره بايد ژبه ونه ګڼل شي، بلکې يوازې د ژبې ثبتول دي په يو ډول نښو سره چې په سترګو ليدل کېږي.

پورته مو د ژبې د پېژندنې په اړه بېلابېل نظريات راوړل او ځای په ځای مو ورسره خپله تبصيره هم راوړې ده، همدارنګه د ژبې اړوند بېلابېل اړخونو ته مو د ژبې د پېژندنې په خاطر اشاره وکړه، که د ژبې په هکله د پوهانو پورتنيو نظرياتو ته راشو، نو موږ د هېچا نظر ته ناسم نشو ويلے او نه د ټولو نظريات په تول پوره ګڼلے شو؛ ځکه چې د ټولنيزو علومو او برخو يوه ستونزه همدا ده چې هر څوک يې له خپلې زاويې پېژندنې راوړي، لکه (د پښتو ګرامر پخپله بڼه کې) ليکوال ليکي: په (۱۹۶۹) کال کې د (اربنز) په نوم يو عالم د (جملې) په هکله له بېلابېلو کتابونو څخه (۳۹۹) تعريفونه راټول کړي و او (څلورسوم) تعريف يې خپل راوړے ؤ..

همدارنګه که يوازې د ژبې د تعريف په راټولولو شروع وکړو؛ نو ممکن چې زرګونو مختلفو تعريفونو سره مخ شو. که دې ته ورته موضوعاتو باندې بحث کوو؛ نو همداسې حالتو سره به مخ کېږو، هغه د يو ليکوال خبره که څوک له موږ څخه پوښتنه وکړي، چې ډوډۍ څه شے دے؟ نو له بېلابېلو ځوابونو سره به دا هم ورته وايو: هغه څه چې لوږ ختموي ډوډۍ ده. دا پېژندنه هېڅ ناسمه نه ده، خو نيمګړې ده. او نيمګړتيا يې دا ده چې مېوه هم سړے مړوي، غم هم سړے مړوي...

نو ځکه د ژبې د پېژندنې دا بحث د بېلابېلو پوهانو له خوا د ژبې د مختلفو تعريفونو په را اخېستنې سره پای ته رسوو:

فرديناند دې سوسور (Ferdinand de Saussure): فرديناند دې سوسور سويسي ژبپوه او د معاصرې ژبپوهنې بنسټګر د ژبې په اړه وايي: ژبه د تصور او بيا تازه کولو (په ذهن کې) لپاره نښې او سمبولونه دي، چې موږ ته زموږ له ذهن څخه دباندې شيان مخ مخ ته کوي.

نوموړے عالم په يو بل ځای کې وايي: هغه نظام چې د يوې ژبې د ټولو ويونکو او زده کوونکو له خوا په مشترکه توګه يو ډول زده کېږي، ژبه بلل کېږي.

کارل بېولر (Karl Bueler): کارل بېولر الماني ژبپوه دے، دے وايي: لکه خياط ته چې ستن، پېچ تاو... پښ ته څټک، انبور، ... د کار افزار (کار لوښي) دي، همدارنګه ژبه د ژوند کولو وسيله ده.

ویلیم چارلس (Charless William): چارلس امریکایي ژبپوه وایي: ژبه د ټولنیز رغون څرګندوني (ښنې) دي.

نیکلس لوهمن: (Niklas Luhman): ژبه د ټولنې د جوړولو وسیله ده.

لودویګ ویت ګېن شتاین (Ludwig Wittgenstein): ژبه د شتو عکس دے. یا ژبه په حقیقت کې د نړۍ څېره او د نړۍ د واقعیتونو ټولګه ده.

ارنسټ کېسریر (Ernst Cassirer): ژبه د ښنو ټولګه ده.

کوین: (Quine): دا ژبه ده چې تا ته نړۍ در پېژني.

ډونالد داویدسن (Donald Davidson): په دې نظر دے، چې ګړ یوازې د یوې معنا له مخې نه څېړل کېږي، بلکې د ژبې په توګه د ژورو خیالونو، اندېښنو او تصوراتو وربښونکے دے.

ویلهیم ونډټ: (Wilhelm Wundt): ژبه د څرګندولو، ښوولو او په ګوته کولو... یو سیستماتیک یون دے.

دا ډول ش.ک. پېښورے، د پښتو ګرامر پخپله بڼه کې کتاب لیکوال: ژبه د شریکولو وسیله ده. یعنې ژبه د مغزو شریکول دي، ژبه د دوو تر منځ د درېیم شریکول دي، ژبه اړتیا – وړتیا سره شریکول دي"(۱۵).

پایله: د ژبې د سپړنې تاریخ که په غور سره ولوستل شي، نو دا حقیقت څرګندېږي، چې ژبنۍ څېړنې د نورو علومو په شان لومړے په ختیځ کې پیل شوي او بیا نورو څېړونکو ورته مخه کړې ده، همدارنګه د ژبې د پېژندنې او دا چې ژبه څه ډول پدیده ده؟ په اړه ګڼو لیکوالو خپل نظرونه څرګند کړي دي، چې په دې لیکنه ترې استفاده شوي، خو په خپل ځای کې ورسره تحلیلي او انتقادي نظر هم راوړل شوے. د ژبې په هکله لیکوالو او څېړونکو مختلف نظرونه ورکړي دي، ځینې ژبپوهان د پوهولو او راپوهولو ټولو وسیلو ته هم ژبه وایي، خو ژبه د اختیاري اوازونو مجموعه ده، چې د وییزو غږونو په واسطه، د یو خاص سیستم له مخې ادا او د وګړو تر منځ د پوهاوي مهمه وسیله ګڼل کېږي. ژبه د فکر د انتقال مهمه وسیله ده، چې د انسان له پیدا ایښت سره یو ځای منځ ته راغلي او د ټولنې له پرمختګ سره یې نور هم پرمختګ کړے دے،

چې لـه همـدې املـه د ژبـې فطـري اسـتعداد پـه ټولنـه کـې راڅرګنـدیږي، چـې زیـاتو پوهـانو ورتـه کسـبي پدیـده هـم ویلـي ده، ځکـه کـه انسـان لـه انسـاني ټـولنې څخـه جـدا شـي، نـو ژبـه نشـي زده کـولای او دغـه فطـري اسـتعداد یـې نه راښکاره کېږي.

## حوالې

(۱) مومند، محمدګل، د پښتو ژبې لیاره، پېښور، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۳ ل، مخ، ټ
(۲) Crustal, Dived, Language. https://www.britannica.com/topic/language.
(۳) هاشمي، سیدمحي الدین، د پښتو ژبې لنډګرامر، پېښور، د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۱۳۸۳ ل، مخ، ۱
(۴) لودین، دولت محمد، د عمومي ژبپوهنې مسایل (سریزه، تدوین، سمون او اهتمام: رفیع الله نیازے)، جلالکوټ، ختیځ ادبي بهیر، ۱۳۹۵ل ل، مخ، ۱۰۸
(۵) رښتین، پوهاندصدیق الله، پښتوګرامر(سیدمحی الدین هاشمي ژباړه)، پېښور، یونیورسټي بُک ایجنسي، ۱۳۷۲ ل، مخ، ۵
(۶) نیازے، رفیع الله، په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ ل، مخ، ۳۹
(۷) آریانا دایرة المعارف (دوهمه دوره)، څلورم ټوک (ر - ض)، د افغانستان د علومو اکاډي د دایرة المعارف د مرکز ریاست، کابل – افغانستان، نبراسکا مطبعه، ۱۳۹۰ش، مخ، ۲۲۶ - ۲۲۸
(۸) زیار، دوکتور مجاوراحمد، پښتو وییپوهنه او وییرغاونه. دویم چاپ، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ ل، مخ، ۳۱
(۹) غوربندے، میراجان، د ژبپوهنې مبادي، کابل، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ ل ل، مخ، ۳
(۱۰) کډوال، شاه محود، د ژبپوهنې بنسټونه، لغمان، رهبر خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۰ ل، مخ، ۵
(۱۱) قران کریم، «سورت بقره، لومړی سپاره، ۳۱ ایات».
(۱۲) قران کریم، « سورت رحمن، ۳ او۴ ایاتونه »
(۱۳) نیازے، رفیع الله، په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر، مخ۳۹ - ۴۲
(۱۴) نیازے، رفیع الله، د پښتو ژبپوهنې تاریخي او تنقیدي جائزه (د پي ایچ ډي مقاله، ناچاپ)، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، سېشن(۲۰۱۶ - ۲۰۱۷)، مخونه، ۲۸ او ۳۰
(۱۵) پېښورے، ش. ک، د پښتو ګرامر (پخپله بڼه کې)، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱، مخ، ۹ – ۱۲